هفته نامه
جهاد هنداره
مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

کاراعمار درمسال درساحه مسجد بابري آغازيافت

دهلي جديد ، ۲۰ ميزان:
کار اعمار درمسال درساحه مسجد بابري درايالت اتراپرديش هند ، تحت نگراني حکومت ايالتي مربوط به حزب متعصب «بهارتيه جنتاپارتي» اغازيافت .
صدراعظم هند «ناراسيم هاراو» ازاين اقدام حکومت ايالتي اظهار تشويش ونگراني نموده ، وراپور مکملي رادرمورد ازوزارت داخله هند خواستار شده است.
همچنان کميسون دفاع ازحقوق مسجد بابري تشويش خود را در زمينه اظهارنموده وآنرا اقدام يك جانبه حکومت اتراپرديش وانمود ساخته است.

پرجلال اباد باندي دمجاهدينو پراخ مقدماتي عمليات پيل شول

ننگرهار ، دميزان ۲۰ مه :
دجهاد هنداري خبريال دننگرهار ولايت دجهادي منابعو په حواله رپوټ ورکړي چي دتيري شنبي په ورځ (دميزان په ۲۰ مه)دننگرهار ولايت دجهادي ځواکونو يوه پراخه متحده حمله دجلال آباد ښار اودهغوپرشاوخوا امنيتي کمربند باندي پيل شوه ، چي په لومړۍ ورځ دمجاهدينو ددرنو وسلو په ډزو سره ددښمن له قواوو څخه ۲۰ کسه مړه اويو زيات شمير نوربي ټپيان کړي.

دويم کال ، پنځمه (پرله پسي ۵۷ مه)گڼه چهارشنبه ، د۱۳۷۰ هـ ش دميزان ۲۴ مه ، د۱٤۱۲هـ ق دربيع الاخره ۸ اود۱۹۹۱ ميلادي کال داکتوبر ۱٦ مه نيټه

*الحاج حقاني دجهاد په لومړيو ليکوکي
*دبنوزيو توپچي قرارگاه فتحه شوه
*په گرديز کي دکفر پر ځالو درانده گوزارونه دوام لري

په دريم مخ کي

دگرديز دتودو مورچلونو راپور تاژ

دکابل ددولتي امنيت وزير يعقوبي په خپلو جناياتود اعتراف په لړکي:

دتيرکال څخه راپديخواد«واد» ۱۷ شکنجه ځايونه تړل شوي دي

په (۷) مخ کي

په نيول شوی کشمير کې هندي پوځيانو ۲۰ تنه شهيدان کړل

دجمعې ترلمانځه وروسته سختې مظاهرې وشوې

په (۸) مخ کي

تشکيل يك مدرسه يهودي برسقف مسجد ذوالقرنين

عکس العمل سازمان انتفاضه وحکومت اردن

درصفحه(۸)

دبگرام په هوايي ډگردمجاهدينو پر له پسي بريدونه دوام لري

ځلور نوري جيټ الوتکې له منځه تللي اودالوتکو دپرواز ليکه ژوبله شوی

په اوم مخ کي

سازمان وحشتناك کي ، جي ، بي منحل گرديد

درصفحه (۳)

دپاکستان صدراعظم محمد نواز شريف عربستان ته ولاړ

اسلام اباد :
دپاکستانی مطبوعاتو په يو خپور شوی خبر کی ويل شوی چی دپاکستان صدراعظم ښاغلی محمد نواز شريف داکتوبر په ۱٤ مه نيټه سعودی عربستان ته لاړ.
خبر زياتوی چی ښاغلی نواز شريف به په دغه سفر کی دعمری په اداکولو سربيره دهغه هيواد له لوړ رتبه مقاماتو سره ليدنه کتنه وکړی .
سياسی حلقو داسفر ځکه مهم بللی دی چی سعودی عربستان ته دپاکستان دجمهور رئيس غلام اسحق خان په رسمی سفر پسی سمدستی کيږی .

په گرديز کي دمجاهدينو پر مرکزونو درژيم دهوايي قواوو وحشيانه بمباري

په اتم مخ کي

عکس العمل رهبران جهادی درقبال پيشنهادمذاکرات ۳ جانبه

چهارتنظيم جهادی پشاور ، شورای قوماندانان وشورای ائتلاف اين نوع مذاکرات رارد نموده اند

په ۷ مخ کي

سناتورمولانا سميع الحق:
دمجاهدينو له رضايت پرته دافغانستان دمسلي حل ممکن نه دی

په ۷ مخ کي

سرمقاله

دافغانستان قضيې دحل اساسي لار: دوسله وال جهاد ادامه!

په دی کی شك نشته چی دافغانستان قضيه په دی څه دپاسه ديارلسو کلونو کی په يوه اوبله بڼه دنړۍ له ډيرو تودو اومهموموضوعاتو په ليکه کی شمير وه اوده ، داچی داقضيه څه وخت ، څنگه ، څومره اوولی دچا ددلچسپی، ننگی ، ملاتړ ، تائيد اوياترديد وړگرځيدلی ، بيل بيل عوامل لری چی په گوته کول يی اوږد بحث ، ژوره څيړنه اوسپړنه غواړی.
که څه هم ددی قضيې دپيلامې اوادامی پوری اړوند حقايق اوواقعيتونه اوس پوره روښانه ؛ په يوه اوبله وسيله دنړيوالو غوږونو ته رسيدلی اوبشری ذهنيت ورسره اشنا دی ، خوبيا هم کله چی په نړيوالو سياسی محافلو ، غونډو اوکنفرانسونو کی ددی مسئلی داواری اوحل دلاری خبره مطرح کيږی دگڼو سازشونو،تفاهمونو اوبيلابيلوملحوظاتو له مخی داسی پريکړی اوورانديزونه رامخی ته کيږی چی ترشايی دکفری اوطاغوتی ځواکونو شومی هيلی ، غوښتنی اوناولی هڅی له ورايه ښکاری اوپه عمل کی پلی کول يی ديومجاهد ملت دمؤمنو خلکو داسلامی انقلاب دسترو هيلو اوآرمانونو له خاورې سره خاورې کيدو اوديومجاهد ولس بيدريغه قربانيو

په اتم مخ

روس اوامريکا دمسلمانانو پر خلاف ديوی جگړی لپاره چمتوالی نيولی دی

قاضی حسين احمد

په ۷ مخ کي

تظاهرات شديدي هزاران تن از اهالي کشمير درمقابل دفتر مرکزي سازمان ملل متحد

درصفحه ۷

تکړه قوماندان شرين جمال له جهادهنداري سره په زړه خواله کې:

افغانانه تاته وايم ! دبښمن دې نسکور دی ، جنگ دې گټلی دی،اوس يې دسياست په ميدان بيرته بايلې؟

په دويم مخ

که ددښمن قواوې دمجاهدينو له عفوې څخه گټه وانه خلې اواسير ونيول شي،فکر نه کوم چې له دوی سره دخوست دپوځيانو په څير چلند وشي،ښايي ددوي دمحاکمي په لارو چاروغور وشي الحاج مولوي جلال الدين حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

تغیرات ظاهري «کي ، جي ، بي» وماهیت تغیر ناپذیران

عبدالوکیل

کي ، جي ، بي طي شش سال اخیر درامپراطوري خون اشام خویش دست به یك سلسله تغیرات شکلي وظاهري اقتصادي، سیاسي ،ایدیالوژیکي واجتماعي زدتاازیك طرف چهره اصلي استعماري وضد بشري خویش راازمردم تحت اسارت واستعمارامپراطوري وحشي خود وجهان پنهان نماید وازطرف دیگر دررابطه به تغیرات مذکور درجهت عیار ساختن مجدد وهرچه مطمئنتر دستگاه دولتي وسایر امور مربوط امپراطوري خویش اقدامات جدي رابه نفع خویش انجام دهد. کي ، جي ، بي دراین آواخر بخاطر موثریت فعالیت هاي استخباراتي وشیطاني اش اقدام به تغیرات شکلي ، تشکیلاتي وسازماني درداخل خویش زده وهمچنان نام کمیته امنیت دولتي (کي ، جي ، بي) رابه «اداره آزاد امنیت واطلاعات» تغیر داده است که مطلب مذکورکدام عمل غیر مترقبه وتعجب آورنبود«بلکه از اوان تشکیل آن یعني ۲۰ نوامبر سال ۱۹۱۷ م به این طرف چندین بار تغیر نام نموده و براي فعال ساختن هرچه بیشتر آن تغیرات متنوع رادر تشکیلات وشیوه کارخویش رونما گردانیده است که ماهیت همه تحولات آن جز شدت بخشیدن به اعمال غیر انساني ، ترور ، اسارت وغصب منافع دیگران ، چیزي دیگري نمي باشد.

کي ، جي ، بي درتاریخ مذکور (۲۰ نومبر سال ۱۹۱۷ م) بعد از پیروزي فاجعه کمونستي اکتوبر ۱۹۱۷ م که در راس آن لینن قرار داشت«بنام «چکا» که اصطلاح مخفف روسي میباشد ومفهوم آن «کمیته فوق العاده مبارزه«ضد انقلاب ، خرابکاري ونفوذ غیر مجاز » میباشد ، اساس گذاشته شد ومطابق ارقام دقیق بیش از سه صد هزار نفر بي گناه بنام اشخاص ضد انقلاب بلشویکي ونماینده گان بورژوازي (سرمایه داري) درزندگي لینن توسط این سازمان تیر باران گردیدند . درسال ۱۹۲۲ نام این دستگاه به جي ، پي ، یو تغیر کرد که مفهوم آن «اداره سیاسي دولتي» است ولي درماهیت آن هیچ نوع تغیرات قابل ملاحظه بوجود نیامد سپس این نام به او، جي ، پي یو که معناي « اداره سیاسي دولت متحده » راافاده مي کند تغیر داده شد.

درسال ۱۹۳۰ زمانیکه دیکتاتوردیگر (استالین) حکمراني مي کرد این دستگاه پلیبوجنایتکار راه«ان ، کي ، وي ، دي » یا «کمیساري خلق براي امور داخلي»نامید اما از سال ۱۹۵۳ به این طرف نام کي ، جي ، بي که اصطلاح اختصاري « کمیته امنیت دولتي » است براي دستگاه اطلاعاتي وجاسوسي روسیه تعین گردید.

روس ها ومزدوران آن ها درافغانستان نیز از سال ۱۳۵۷ هـ ش به این طرف بااین نوع نیرنگ ها وفریب دادن ها به مردم مسلمان افغانستان نام دستگاه خونخوار راچند بار تغیر دادند وان را ازمصونیت ملي به اکسا ، کام ، خاد وبالاخره نام فعلي ان واد تغیر دادند که در اساس وماهت آنهمان دستگاه زجر ترور وضد منافع مردم مسلمان افغانستان میباشد .

تغیراتیکه دراین اواخر درتشکیلات وسازمان دادن مجدد وظایف ومکلفیت هاي کي ، جي ، بي رونما گردیده اند نمایانگر انست که رهبري کي ، جي ، بي از اهداف ضد مردمي که تاهنوز از اجراي وظایف خود بدست اورده است راضي نیست وبراي اجراي مطمئن وموفقانه امور جاسوسي داخلي وخارجي ترور وکشتار وزجر بي رحمانه مردم آنرا مجدداً سازمان میدهد . عده از جزوتام هاي نظامي ایکه قبلا مستقیماً به کي ، جي ، بي تعلق داشتند واکنون انها رابه اردو وکریملین محلق ساختند مفهوم انراندارد که کي، جي ، بي ازقدرت وصلاحیت خویش دست کشیده است کي ، جي ، بي بخاطر فعالیت هاي اجنتوري درتمام ارگان هاي دولتي غیر نظامي«اعضا وکارمندان خویش را به طور مستقیم استخدام مي نماید وهمه امور انها را تحت کنترول دارد به همین ترتیب در اردو وپولیس (وزارت داخله) نیز کارمندان خویش را به طور مستقیم وعلني استخدام مي نماید ودرتشکیل تولي ها ، کندك ها ، غند ها ، لوا ها ، فرقه ها ، قل اردو هاوسایر شعبات دیگر براي اعضاي کي ، جي ، بي بست ها راتعین نموده اند تا توانسته باشد آزاین طریق فعالیت هاي اجنتوري رابه طوري مطمئن وهمه جانبه به پیش برد وهمه افسران وعساکر تحت مراقبت وکنترول جدي خویش قرار داشته باشد . روي این محلوظ درحقیقت کي ، جي ، بي به قواي نظامي بیشتریکه تاکنون مستقیمًا به کي ، جي ، بي تعلق داشت ضرورت ندارد .

علاوتًا یك سلسله تغیرات دیگر تشکیلاتي وسازماني ایکه در کي ، جي ، بي رخ میدهد نشان دهنده انست که کي ، جي ، بي میخواهد به شرایط وحوادث ایکه درجهان رخ میدهند خود را طوري عیار سازد تانه تنها امپراطوري شهرت یافته به وحشت خویش رارنگ دیگر بدهد بلکه خود را نیز منحیث یك ارگان غیر جابر وستم گر نشان دهد . اگر ازین فراتر برویم وفرض کنیم که کي ، جي ، بي به طور کامل خویش راملغا قرار بدهد دراین صورت باز هم وظایف کي ، جي بي راارگان دیگرمانند وزارت داخله ، ویا ارگان جدیدالتاسیس دیگر به عهده خواهد گرفت.غوغا ایکه درارتباط به تغیرات ظاهري روس ها ازجانب عده ازاشخاص ساده لوحي که آنها این تغیرات رااهمیت بیش از واقعیت وحقیقت آن میدهند ، نشاندهنده زرنگي وتوانایي فریب دادن کي ، جي ، بي به عده از مردم گیتي میباشد اما تاهنوز خطر کي ، جي ، بي ازبین نرفته است.کي ، جي ، بي جهت بدست آوردن اهداف شوم شیطاني واستعماري خویش به هروسیله ممکن باوجود آنکه هراندازه غیر انساني وغیر شریفانه نیز باشد دست مي بردپس مردم مجاهد ومسلمان افغانستان باید نیرنگ ودسایس کي ، جي، بي وسایر دشمنان اسلام واین خاك شیر مردان افغان راتحت هر پوششي که باشد بشناسد وانرا خنثي نمایند تا با پیروزي اسلام حصول استقلال وطن ویك جامعه اسلامي پیشرفته ومتکي بخود رادراین خاك شهیدان وقهرمانان افغان بوجودبیاوریم .

افغانه تاته وایم!
دښمن دي نسکور دي ، جنگ دي گټلي دي اوس یې دسیاست په میدان بیرته بایلي؟

پوښتنه : که مهربانی وکړی اووایاست چی خپل جهاد موپه کوم کال اودچاپه قیادت شروع کړی دی؟

ځواب : مونږ چی کله په جهاد شروع کړیده زمونږ دجهاد دشلو کلونو څخه زیات وخت وشو، ځکه چی یوه خو زمونږ دافغانستان نه اولی جهاد دتره کی دکودتا او بیادعملی جهاد دپیل دهغی نه مخکی تقریباً شل دویشت کاله کیږی چی مونږ دغسی جلسی پیل کړیدی چی دکمونستانو دوران راغی بیامونږه په ځان پوه شو چی دغه دولت سره ونه جنگیږو نو هیڅ چاره یی نشته کمونستان مو په اول وخت کی په توپکو وویشتل چی تره کی کسیناست نو یوه میاشت وروسته«زمونږ کوډنه یی په توپونو وویشتل هلته حقانی صاحب او فتح الله مولوی صاحب چی شهیدشو زمونږ خاص ملگری وو فتح الله مولوی صاحب ډیریو عجیبه سړی و حقانی صاحب سره اول وخت کی دجهاد ملگرتیا کړی وه دهماغه وخت نه نیولی چی مونږه په جهاد شروع کړی ده پس تردغه وخته بیا می په بل تنظیم کی کارنه دی کړی.

پوښتنه : تاسی چی کله اول جهاد شروع کړه څومره مجاهدینو ستاترقوماندی لاندی وواو اوس څومره مجاهدین ستاترقوماندی لاندی جهادکوی ؟

ځواب : په اول وخت کی چی مونږ جهادشروع کړ په خوست کی چی څومره پیران یاسیدان دی چی (دحج بدرصاحب) المسیان دی دهغی یواتحاد وو په هغه وخت کی زه وړوکی وم پیرانوکی ښه خلك مولویان مشران وکه څه هم ټول کلی او دتنظیم له طرفه ماته وویل شول چی ته مشر اوسه خو بیا مافکر وکړه چی زمونږ دامشران شته ښه فکر لری باتجربه خلك دی زمونږ یو مشرچی «حضرتزمان » نومیده هغه شهید شو زمونږ دتره زوی وو زمونږ دپیرانو دجبهی مشروو هغه وړوکی غوندی گروپ ؤ هغه وخت کی ټول واړه واړه و اوس غټ شوی ، بیا هغه شهید شو په اول وخت کی زمونږ وروړ نورجمال شهید شو په پیرخاندان کی اول داشهید شو دهغی نه وروسته بیا «حضرت زمان » شهید شوه بیاچی حضرت زمان شهید شو زمونږ مجاهدینو گډوډ جهاد داحمدغنی حاجی سره پیل کړ بیاوروسته هغه هم شهید شو هغه چی شهید شو بیایی زه مشروټاکلم.

پوښتنه : قوماندان صاحب ! که مهربانی وکړی ، دجهاد په دوران کی موچی کومی فتحی او کارنامی کړی په لنډ ډول یی بیان کړی ؟

ځواب : موږ دجهاد په دوران کی ډیری قربانی ورکړیدی دمنگلو طرف کی هغه نه وروسته دسنکیو پوستی مووهلی په سنکیو کی دحکومت ډیره زیاته قوه وه تقریباً لس زره کسه هلته دښمن اچولی ؤ مونږ حملی پری وکړی تقریباً دری ځلورحملی موپری وکړی هغه موله منځه یوړل څه موژوندی ونیول او څه موچی ووهل دهغی نه وروسته دملنگ غونډ او دهغی نه وروسته ویلم پوستی دیرملکه دا ټولی په اتحاد سره فتحه شوی حاجی صاحب څه مجاهدین دی دا په یوه قومنده وجنگیدل ورسره نو کله چی مونږ د«درگی» «سپینکی » وهله دمنی کنډو نه راکوز شو په دغه ځای کی زمونږ

په (۵) مخ کې

خالقیار باطرفه، بي طرفه اوکه...؟

رحیمزی

وروسته له هغی چی په نیویارك کی دغیرموثرو جهادی تنظیمونو دهیأت اودروسیی دبهرنیو چارو دوزیر «بوریس پنکن » ترمنځ خبری اتری ترسره شوی ، بوریس پنکن دافغانستان دمسئلی سیاسی حل دپروسی دلا چټکتیا په اړه یو نوی پیشنهاد وکړ هغه داچی کیدای شی دنجیب پرځای دکابل دجمهوری ریاست واگی دکوم جهادی تنظیم مشر ته وسپارل شی ، پدی شرط چی خالقیار اوپه اصطلاح دده «غیر گوندی» کابینه به پر خپل ځای پاتی وی ، یابه ددی واړو اړخونو څخه صرف نظر کیږی ، اوداقتدار واگی به ظاهرشاه اودهغه ډلی ټپلی ته سپارل کیږی .

ددی خبری تاو لانه وو سوړ شوی چی په کابل کی دمزدور رژیم دپه اصطلاح غیر گوندی اوبی طرفه صدراعظم خالقیار" له خوا یونوی انکشاف وشو ، اوهغه داچی دیوی میاشتی په ترځ کی به دملگرو ملتو دسازمان دعمومی منشی ترځارنی لاندی دمجاهدینو دځینو ډلو دنمایندگانو ، دظاهرشاه داستازو اوپه کابل کی دغیر گوندی کسانو !! یو گډ کنفرانس جوړیږی ، اودهغی په ترځ کی به دافغانستان دروانی کشالی دحل پرلارو چارو بحث کیږی .

دروسیی سربیرحاله‌واکمن اوپه کابل کی دهغوی دمزدور اوتپل شوی رژیم مشران دیوی خوا په مسکوکی دناکامی کودتا څخه وروسته دزیات شمیر اقتصادی اوسیاسی ستونځو سره مخامخ دی ، بل لوری ته دافغانستان په داخل کی دمجاهدینو قهرمانانه بریدونو اوپرله پسی فتوحاتو ترهروخت زیات وارخطا کړی ځکه نو پدی نویو وړاندیزونو سره غواړی خپل ځان نړیوالو ته (دتل په شان) سوله دوست معرفی کړی ، اوبرعکس مقابل لوری په جگړه غوښتنی اوخونریزی !! متهم کړی او دځینو مشخصو اومعلوم الحاله ځیرو په وړاندی کولواودهغوی په غیر گوندی اوبی طرفه معرفی کولو سره ، دافغانستان په راتلونکی کی خپلو دغه جواسیسو اونوکرانو ته دپښی ټینگولو ځای او موقع برابره کړی .

داخبره هم له چاپټه نده (لکه چی مزدور نجیب هم پری اعتراف کوی) چی نور دروسیی اوامریکا ترمنځ داختلاف کوم ټکی ندی پاتی اوله همدی امله امریکا هم اوس هماغه څه غواړی ، کوم چی روسیه یی غواړی. اوپدی توگه دغه استعماری طرحی اووړاندیزونه ، دهغه بین المللی موامرو اوسازشونو یو جز هم بللای شو ، چی دیوی اوږدی مودی راپدی خوا په نړیواله سطحه دافغانانو داسلامی جهاد په وړاندی راروان دی ،او دعملی کیدو لپاره یی دبهرنیو دښمنانو تر څنگ متاسفانه ځینی ناپوه (یاخود خواه) داخلی دوستان هم هلی ځلی کوی .

گومان کوم دافغانستان دمجاهد ملت هر ماشوم به هم نن پدی پوی وی ، چی خالقیار یادهغه په شان یو شمیر نوری کرغیړنی ځیری چی نن دروسانو له خوا مجاهدینو ته له هغو سره دگډ حکومت دجوړولو پیشنهاد کیږی ، نه یوازی بی طرفه ندی بلکه دهغه تپل شوی اومزدورنظام دیوجز په حیث چی دپردیو په اراده اوغوښتنه زمونږ پر ولس حاکم شوی اوپوره ۱۳ کاله یی زمونږ دملت ، دښځو ، نارینه وو ، وړواو زړو په وینو لاسونه

په (٦) مخ کې

> دغه استعماري طرحي اووړاندیزونه دهغه بین المللي موامرواو سازشونو یو جزهم بللاي شو چي دیوي اوږدي مودي راپه دي خواپه نړیواله سطحه دافغانانو داسلامي جهاد په وړاندي راروان دي

په گردیز کې دکفر پر ځالو درانده گوزارونه دوام لري

دراپور تهیه کوونکي : ننگیال   عکاسي : احمد سینا «احمدي»

دجگړې څلورمه ورځ (۱۳۷۰/۷/۱۱)

پدغه ورځ مجاهدینو دسیدکرم پر ولسوالی عملیات گړندی کړل اودرژیم څلورپوستی یی فتحه کړی .

همدارنگه مجاهدینو دخپلو بریالیو عملیاتو په ترڅ کی له ازغنی وراندی داوگرمی پوستی هم فتحه کړی .

دمجاهدینو ددرندو وسلو ډزو له امله په تیره کی ددښمن څلورټانکونه ویجاړ کړای شول .

همدارنگه پدغه ورځ په بنوزیو کی ددښمن دتوپچی قرارگاه هم فتحه شوه اوددښمن ډول ډول وسلی اومهمات مجاهدینو په غنیمت ونیول اوددښمن گڼ شمیر افراداو صاحب منصبان ووژل شول په نیول شوی وسله کی ۷ ډی سی او ٦ ایم سی توپونه ، ٦ روغ زغره وال ټانکونه ۲۰ عرادی نقلیه وسایط ، ٥ لویی شلکا ، ٥ S, وړی شلکا ، پنځه میله P , G, N لس زیگویك ، پنځه عرادی زرهپوش ۱۰ پایی وسط هاوان او ۲ غرنی هاوان ۲۰۰ میله سپکه وسله او ۸۰ موټر مهمات شامل دی همدارنگه ۱۳ ویجاړ ټانکونه هم له دښمن څخه پاتی شوی دی ، نوموړی قرارگاه د٦۷ غونډ ۱۲ پیاده قرارگاه وه چی ددغی قرارگاه له فتحی کیدو سره ددښمن مقاومت له یوی شدیدی حربی سره مخامخ شو او تعرضی ځواکونه یی له پښو وغورځیدل.

دجگړې پنځمه ورځ (۱۳۷۰/۷/۱۲)

پدغه ورځ له غرمی وروسته الحاج مولانا جلال الدین حقانی دجگړې دلومړنی خط

الحاج مولوي نظام الدين حقاني دگرديز دعملياتوپه يوه سنگر کي

دلیدلو قصد وکړ که څه هم وروڼو دده له تلو سره مخالفت وکړ خو خپله وسله یی راواخیسته اودلاس په لاس جگړې لومړنیو سنگرونو په لور یی حرکت وکړ. دلاری په اوږدو کی ددښمن سخته بمباری او گوله باری جاری وه ، دسکړ توغندیو اونورو درنو وسلو مسلسلی ډزی روانی وی.

دجگړې لومړنی خط دبنوزیو توپچی قرارگاه وه چی مجاهدینو پرون فتحه کړی وه، پدغه قرارگاه کی له دښمن څخه ډول ډول نیول شوی درنی وسلی مجاهدینو بیرته پر دښمن استعمالولی.

دجگړې په لومړی خط کی دحقانی صاحب دحضور له امله مجاهدینو پر دښمن خپل بریدونه نور هم گړندی اوتوپانی کړل .

دتبنډی په سیمه کی هم دمجاهدینو اودښمن ترمنځ سخته او خونړۍ جگړه روانه وه ،او دالحاج خلیل الرحمن زغروال ځواکونه ددښمن پر سنگرونو دورختلو په حال کی وو .

ددښمن گڼ ټانکونه او نقلیه وسایط دمجاهدینو دډزو له امله ویجاړ   اوداور په لمبو کی وسوځیدل .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی دمجاهد غږ راډیو خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل :

« مجاهدینو دتیری په طرف ددښمن لس پوستی فتحه دغلگی په سیمه کی دمجاهدینو بیلابیل مرکزونه معاینه کړل پدغو مرکزونو کی ددښمن نیول شوی افراد هم لیدل کیدل .

یوه نیول شوی عسکر وویل : موږ ۲۵ تنه ډریوران یی دکندهار او نیمروز په لارو نیولو اوکابل ته یی راوستلو بیایی زموږ په څیر له نیول شویو کسانو څخه یوه ۸۰۰ کسیزه ډله جوړه کړه اوگردیز ته یی انتقال کړو زموږ له ډلی څخه نږدی ٤۰۰ کسانو دفرصت په پیداکولو سره تیښته وکړه خو موږیی دگردیز دازغنی قرارگاه ته راورسولو پدغه

مجاهدینو په بیلابیلو محاذونو کی خپل پرمختگ ته دوام ورکاو اودنویو سنگرونو په جوړولو او دمهماتو اونویو وسلو   ځای په ځای کولو مصروف وو دمجاهدینو خپل سنگرونه دگردیز ښار په ۳ کیلو متری اوپه ځینو برخوکی په ۲ کیلو متری کی نیولی اوټینگ کړی وو . دگردیز په پوځی تاسیساتو او قرارگاوو باندی دمجاهدینو دتوپچی عملیات روان ؤ و.

تردی وخت ددښمن ۸۰ پوستی مجاهدینو فتحه کړی وی .

دمیزان په ١٦ مه نیټه :مجاهدینو په زرمت کی درژیم

کړی اودزرمت له خوا دسوری تر پوستواودشرق له خوا څخه داوگری تر سر پوری مجاهدینو پرمختگ کړی اوس مجاهدین دتبنډی په سیمه کی چی دگردیز په دوه کیلومتری کی واقع ده له دښمن سره په جگړه بوخت دی .

حقانی صاحب زیاته کړه که چیری ددښمن قواوی دمجاهدینو له عفوی څخه گټه وانه خلی اومجاهدینو ته تسلیم نشی ، اوپه جگړه کی اسیر ونیول شی نو فکر نه کوم چی مجاهدین لدوی سره دخوست دپوځیانو په څیر چلند وکړی کیدای شی ، ددوی دمحاکمی په لاروچارو غوروشی ځکه ددوی دډزو او وحشیانه بمباریو اوگوله باریو په جریان کی گڼ مجاهدین او ولسی خلك شهیدان او زخمیان کیږی ....»

سهار محترم حقانی صاحب قرارگاه کی دیوی شپې له تیرولو وروسته مجاهدینو په قرارگاه حمله وکړه له لږې جگړې وروسته صاحب منصبان وتښتیدل ، اوټانکونه اوموټر یی پریښودل ، موږ ۱۱ عسکر تر پله لاندی کیناستلو پدی وخت کی مجاهدین راورسیدل ، او موږ یی ونیولو .

دغه عسکر په پای کی وویل : زه داسی فکر کوم لکه چی له زندان څخه خلاص شوی وم.

دشنبی په ورځ دمیزان ۱۳ نیټه محترم حقانی صاحب دغلگی په مرکزونو کی دجنوبی محاذ له قوماندانانو سره دجگړې دښه سمبالښت اوتنظیم په رابطه خبری وکړی او لازم هدایات یی ورکړل .

دجگړې پنځمه اوشپږمه ورځ (۱۳۷۰/۷/۱۳)

دجگړې په دغو دوو ورځو کی تعمیر ولسوالی په نوم چی دتعمیر له فتحی وروسته یی په یوه کلا کی دیوی پوستی په بڼه اچولی وه فتحه کړه او دزرمت له استقامت څخه دمجاهدینو دسروری ترسیمی پوری خپل بریالی پرمختگ ته دوام ورکاوه.

اوس دگردیز اودمجاهدینو دسنگرونو تر منځ دښمن دمقاومت کوم حایل ندی پاتی مجاهدینو خپل بریدونه ددی لپاره متوقف کړی چی له نورو اړخونو څخه هم دمجاهدینو په ټاکلی وخت اوفاصله گردیز ته دننوتلو لپاره خپل قوتونه ټاکلو ځایونو ته راورسولی شی .

دمیزان په ۱۷ مه نیټه دسهار په لس نیمو بجو ددښمن رهبری شوی ډاکټونه دغلگی په سیمه کی دمجاهدینو په مرکزونو پریوتل اود ۳۰ تنو په شاوخوا کی مجاهدین یی شهیدان اوگڼ نور زخمیان شول .

«ادامه لری»

په گردیز کي دمزدور رژيم دنيول شويوعسکرو يوه ډله

سازمان وحشتناك کی ، جی ، بی منحل گردید

مسکو ، اژانس رویتر:

کمسیون دولتی حاکم بر روسیه انحلال سازمان جاسوسی ان کشور« کی ، جی ، بی »رسماً اعلان نموده ، وبعوض ان تشکیل اداره دیگری بنام اداره امنیت واطلاعات ازادی را منظور نموده اند.

اعلان این اقدام باراول دربرج گذشته توسط واریاکتین رئیس سازمان کی ، جی ، بی صورت گرفته بود ، ولی منظوری ان روز گذشته دراجلاس سران ده جمهوریت روسیه داده شد.

کی ، جی ، بی از ۷۰ سال بدینسو حاکمیت شدیدی بروضع روسیه داشت که بعد از کودتای نافرجام ۱۹ اگست روبزوال نهاد.

دمجاهدينو پرسنگرونودمزدوررژيم دوحشيانه بمبارۍ يوه بيلگه

شيطان دي ترهـيـدلي مسـلـمان په مخه کړي
الحـاد گـوره عــدم تــه چي افغان په مخه کړي
تکبـيـر مــوورته زيري دمرگونو نه شوځه شو؟
سـتـر روس تـوتـه توته شو اوتوپان په مخه کړي

دشهيد احمد غنی مسکين يار په ياد

لطف الله مشعل

ته نه هيريږی !
هوا ته ! ته ! دادب بادشاه اودسنگر اتل ! ، هيـځکله بـه هيرنشی !
ستادخواره اوازازانگی اوس هم زموږ په غوږونو کی ديوه خواره اوله سوزه ډك اواز په ځيرازانگی کوی ، ستاخواره اوله وياړونوډك اشعار اوس هم دتورغره په لمنو کی دمجاهد دټوپك دشپيلی سره غبرگ غږول کيږی ...!
ته نه هيريږی !
هوا ته !!
ته ! دسنگر اتل اودادب دزرغون بڼ يو تازه نيالگی !، ستاله حماسو ډك اشعار تل دهجرت په ځمکه دختينو کوړونو او ټوکريزه خيمو دتل څخه اوريدل کيږی ، ته دسنگر شاعروی !... ستا دخيال گريت دسنگرپه چارچاپيره چکری وهلی تادهوسونو اوعشرتونو نړی ته شاکړی وه اوديو بادرده سپاهی په څير دی ، دژوند ټولی هيلی او اميدونه دمورچل دخاورو لاندی کړی وو !! تاهرڅه پيژندل ، هوس ،عيش ، عشرت ، اسودگی ...!! ولی تاداټول دخپلی له وياړه ډکی جذبی اواسلامی مفکوری په اساس شاته پری ايښی وو !
تابـه تـل دهـيـواد پـه غـرورغـو کـی پـه وړی نـس اوناچيزه مهماتوددښمن پرلوېولوېو پوستو بريدونه کول اوتل به دی دخواره اواز اوله ولولوډکو شعرونو په وسيله مجاهدينو ته دايثار اوقربانی جذبه وربښله !!!
ته نه هيريږی !!
هوا ته !!!
ته نه هيريږی ځکه ستاله ولولو ډك اشعار اوغزلی ستادلوړ شخصيت اوزړورتوب ترجمانی کوی !!!
نوکه يوخوا په سنگر کی ديو اتل سپاهی په څيرپه ميړانه دخپل دين اوناموس لپاره جنگيدی ولی له بل پلوه تادخپلو رغنده اوزړه بوږنوونکو اشعارو په وسيله ځوانانو ته دميړانی اوايثارکوندو او يتميانو ته دصبر اواستقامت اومجاهدينو ته دزړورتوب اوشجاعت درس ورکاوه!!
داچی ستاله وياړه ډك اشعاراوترانی په اخبارونو کی خپری نشوی ياداچی ستادغزلو بيلگی اوکتابونه چاپ نشول نشی کيدای چی ته دچاله ياده ووځی اويادچاهيرشی !! نه !؟! نه !! داسی نشی کيدای !! هيڅ نشی کيدای ته به تل زموږ په يادکی يی اوستا زړه بوږنوونکی اشعاربه په نژدی وخت کی دتاريخ کرښو کی ثبت شی ! ته نه هيريږی. بالکل نه هيريږی ستامزار لـه ورايـه ښکاری ! دهجرت پـه ځمکه دخيساری دتوربخن او له کرليچوډك سرك پرغاړه !! دقبـرونو پـه منځ کی !!!
ستامزار لـه ورايه ښکاری ! دهجرت پـه ځمکه دخيساری دتوربخــن او لـه کرلـيــچو ډك ســرك پر غاړه !!دقبرونو په منځ کی !!!
ستادمزار شنه جنډه ستا ژوندترجمانی کوی اوستا دميړانی انځور گری !!!
دگهيځ مال له سوزه ډك نسيم تل ستادقبرجنډه ښورروی اوديوه اسرار اميزه معماپه څيردقبروبيرغ يون او اهتزاز دهيواد پر لوری وی !!! دوياړلی اوله برمه ډك هيواد پرلوری چيرته چی ستاپه شان دزرهاوو نيمه خوا ځلميانو جسدونه ښخ دی اولااوس هم دتاوده سنگر ډگر دی !!!
هره شپه ستا په قبرډيوی بليږی !! دسوزاوگدازډيوی !! دشهادت اوافتخار ډيوی !! ستادقبرديوی بالکل دشفق په شان ډی !!دهيواد دسوربخن شفق په شان !! چيرته چی دشفق له داغداره اوبلورينه سترگو څخه دوينوته ورته اوښکورودونه بهيری !!!
ستاقبر بالکل معلوم دی ! په هديره کی دشهيد قبر! ديواتل قبر! ديو اديب قبر ! دشهيداحمد غنی مسکين يارقبر!!!
رب ددرجی لوړی کړه .

بت شکن

شفيقي

سـوځـم پـي لمبـي مي په بـدن گرځي
سـتـرخـونـي قاتـل مي په وطن گرځي
لـويـږي بـه خـودغيـږي داغيـارو ته
څـوك چـي داغــيـارو په لمن گرځي

پـورتـه شـه «اکبره !»په ژوندونه شوه
وگـوره پـردي دي پـه مـدفـن گرځي
نـشـتـه دي مـالي چي ترينه وي شړي؟
«سره»او «تـور»زاغـان مـي په گلشن گرځي

شـور دنـفـاق نـه وي چـي يي واورمه
خـدايـږوراتـه غـږدځـنـکـدن گرځي
بـس کـه پـه يـوه لاره تـړون وشو
هـريـوبـه هـمـاغه «بتـشکن»گرځي

ننگيالي اوخاطري يي

ته به وايی کوم افسانوی پهلوان می مخی ته ولاړ دی، ته به وايی رستم دی يا افراسياب دی اويا هم بهرام دی چی له ديوانو سره پنجی نرمولو ته انتظار باسی .
هوکی کټ مټ همداسی ، خوهغه کوم افسانوی قهرمان نه دی دکوم خيالی داستان هيرواتل نه دی ، ديوی رښتينی معرکی دکټلو وياړ لری ، يو رښتيانی اتل اوپهلوان دی ، دعصر له ديوانو سره يی پنجی نرمی کړی دی ، اوپه تندی کی يی ديوی نابرابری جگړی دکټلو روښنايی ځليږی.
په عقابی سترگو کی يی يو نامعلوم برم ځلکونه کوی ، لاندخپلی پښی ته گوری چی نشته ده ولی ؟
ددی ځواب هم يو داستان دی ، يوه حماسه ده ، يوه تاريخی اوله وياړه ډکه کيسه ده ، دی دهمدغی کيسی او حماسی قهرمان دی نوځکه په خپله پښه ورکيدو خفه نه دی ، لاخوښ دی ، ځکه دخپلی اتلولی ژوندی سند يی دی ، دميړانی او غيرت کارت يی دی اوټول يی په همدی پيژنی چی دډگر زمری دی دننگونو بچی دی دغرو او ډگرو ځوان دی ، دکوراوپرستنی اشنا نه دی ، دپرښواوکمرونو ياردی ، اوبيا ځان راښيی:
ملادورانی دسهار گل زوی ، دبغلان ولايت دنهرين ولسوالی اوسيدونکی يم ، په ۱۳٦۱ کال می داسلام مورچلونو ته مخه کړی او ۱۳٦۷ کال کی دسلمان فارسی (رض) دغونډ مجاهد شوم اوبيا د۱۳٦۸ کال دجلال اباد په جگړه کی ثمرخيلو ته نږدی ددښمن دتوپ دمرمی په واسطه زخمی اويوه پښه می له لاسه ورکړه.

ديني جواهر

مولاناعبدالمجيد

په دنيا کی هروگړی دژوند په بهير کی دځينو څيزونو سره محبت اومينه کوی خو ددنيا هرمحبوب (معشوق) خپل عاشق يوڅه ناڅه ناز او ځوروني ته اړ کوی .
خواهغه (معشوق) ذيروح وی اوکه غير ذيروح .
اما رښتينی دمحبت لايق باری تعالی دی ځکه نه يواځی داچی خپل عاشق نه کړوی بلکه دلږ محبت پر ځای ور سره ډير محبت کوی اودلو شتی په بدل کی څو قدمه ورنږدی کيږی .
الله (ج) مهربان فرمايی : ترجمه : رښتيا چی الله(ج) دنيکانو بندگانو سره محبت کوی ... په اوله پاره کی الله(ج) فرمايی ترجمه : مايادکړی تاسو به ياد کړم زما دنعمتونو شکر ادا کړی اوناشکران مه جوړيږی .
۲ - ځينی انسانان دژوند اساسی هدف يواځی خوراك ، څښاك ،لذتونه ، خوندونه،،،لاس ته راوړل بولی .
حال داچی شفقته الله(ج) دټولو مخلوقاتو رزق پخپل ځان باندی منلی دی پاره ۱۲ - سورة هود کې دا مجيد فرمايی ترجمه : دځمکی دهر ژوندی خوراك او خواړه په الله ج باندی دی ، يعنی دروزی ورکولو ذمه وار الله (ج) دی ،اودانسانانو دژوند رازيی خپله تابعداری کی نغښتی .
۳- دنړی مسلمان وگړی دځينو دنيوی شيانواو امکاناتو په سبب خپل منځ کی دښمنی کوی .
اوباری تعالی(ج) فرمايی ترجمه : په رښتيا شيطان ستاسو دښمن دی .
اوپه دښمنی يی ونيسی .
اونبی کريم(ص) فرمايی مسلمانان ديو بدن حيثيت لری ،مفهوم الحديث .
٤- ډير انسانان دمال دولت ، رتبی ، قوم ، اولاد... په سر ځينی په ځينو نورو باندی خپل ځان عزتمند بولی اوداشيان دعزت اساسی علت بولی .
خدايتعالی ج فرمايی ترجمه : رښتيا چی په تاسوکی پرهيز گار دالله ج په نزد عزتمند دی (سورة حجرات پاره ۲٦)
اوهم څرگنده شوه چی دعزت منبع تقوی ده .
بل ايت کی الله(ج) فرمايی ترجمه : يقينا ټول عزت دالله (ج) سره دی .
٥- دنيا کی اکثر انسانان په نورو انسانانو اوځينو نوروشيانو باندی توکل (ځان سپارنه) کوی .
خدای تعالی ارشاد فرمايی : ترجمه : هرچا چی په باری تعالی توکل (ځان سپارنه) وکړ خدايتعالی ج ورته کافی دی ۲۸ پاره سورة طلاق
٦- هرڅوك دخپل ژوند دپايښت په هيله دمال دولت مادی امکاناتو ذخيره جوړوی .
باری تعالی فرمايی ترجمه : هغه څه چی تاسو سره دی خلاصيږی ، اوهغه څه چی دالله(ج) په نزد دی هغه به باقی وی.
يعنی دنيوی ذخاير پای ته رسيږی ، اوداخرت ذخيره شوی شيان پای نلری ، همدارنگه خداوند کريم په لسمه پاره کی ارشاد فرمايی کوم کسان چی سره زر سپين زر جمع کوی ، اوالله(ج) په لارکی يی په بيوزلو باندی نه خرڅ کوی دی کسانو ته په دردونکی عذاب باندی زيری ورکړی .
۷- دنړی زياته برخه انسانان دخپل نفس دناروا غوښتنو دسرته رسولو لپاره هلی ځلی کوی اولالهانده منډی تړی وهی .
خدايتعالی فرمايی : ترجمه : هرهغه څوك چی دباری تعالی دشان اولوی والی څخه وبيريده اوخپل ځان يی دنفس دبدوغوښتنو څخه وژغوره .
په رښتيا چی جنت به يی داوسيدلو ځای شی .- پاره ۳۰ سورة نازعات
نو هلی ځلی دابدی ژوندون دښکلا لپاره ډيری ضرور دی نسبت ددنيا لنډ ژوندون ته .
۸-ځينی خلك دنورو سره دمادی اومعنوی شتمنيو په لامل حسداوکينه کوی
خدايتعالی فرمايی : ترجمه : موږ ددوی تر منځ ددنيا په ژوندانه کی معيشت ويشلی دی اوځنی موپه ځينو نوروباندی دمنصبونو اومرتبوله مخه پورته کړيدی .
ددی لپاره چی ځينی ددوی ځينی نورپه سخريا په (ټوقو) سره ونيسی .
نو نه يواځی داچی دالله (ج) په فيصلو ناراضی ښکارنده بلکه دالله ج دحکمونو ماتوونکو سره کينه اوحسد ښکاردی.

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

په افغانستان کي دنیول شوروسي عسکرو خاطري :

ژباړن :مسلم

پەتېرېې:
دروسی پوځ دظلم او وحشت زیاتی کیسی دچرکوفسکی په سینه کی خوندی دی ، هغه دیوه دری پوړیزه کور څخه دیوی ښځی راغورځول هم لیدلی چی دهغی دراغورځولو څخه دمخه دعکس اخستلو ټول ترتیبات نیول شوی وو اوهم یی دهغی ښځی سره دروسانو ظلم هم په زړه دی چی امید واره وه ، یوه روسی پوځی هغه دومره ووهله ترڅوچی اولاد یی وزیږاوه « الیگزنید رچرکوفسکی » هغه دشرمه ډکه صحنه هم په خپلو سترگو لیدلی چی روسان یو کورته ورننوتل او پلار ته یی دلورسره او زوی ته یی دمور سره دبد کار کولو امر وکړ برچی دهغوی په تنو کی ننوتی هغوی تری انکار کاوه او بالاخره یی ددی کـــور واړه زاړه ووژل ترټولو زیاتی چی کومی صحنی د « چرکوفسکی »ضمیر زورولی او دهغه له زړه نه وځی هغه دهغه بی گناه ماشوم ذبح کول دی چی دهغه دغوځ شوی سر او بی نوره سترگو عکاس کیدودی صحنی په لیدو سره یی داسی فکر وکړ چی « فرعون » بیرته راژوندی شوی .

الیگزیندرچرکوفسکی پرمظلوموافغانانو دکیمیاوی گازونو استعمالول هم په خپلوسترگو لیدلی دگازونو دتباه کاریو اووژلوله امله په زرگونو تنه وژل شوی په زرگونو معیوب اوپه زرگونو داسی ناروغیو باندی اخته شوی چی دهغوی له اغیزو به راتلونکو نسلونه هم خوندی نه وی ،روسانو به چی افغانانو پر ضد کوم گازونه استعمالول هغه څوډوله وه دچونی په ډول سپین رنگه گاز چی دمړی دجسد په شان به یی بدبوی کاوه ، دی به سمدستی دانسان اعصاب له منځه وړل اوهغه به دلیونی په شان گرځاوه ، شین رنگی گاز وژونکی ؤ ددی گاز له وجی به انسان سمدستی دمرگ غیږی ته ورغورځول کیده ، داوبو په ډول بی رنگه گاز به دانسان پر سترگو ټټو ، ورانونو ، باندی اغیزه کوله ، سترگی به یی بی تاثیره کولی او هرشی به دیوه پر ځای څو دانی معلومیدل ، دخاوروپه رنگ گاز دماشومانو لپاره ډیرخطرناك و ټولو گازونو به فصلونه له منځه وړل ، اوځنی دومره خطرناك ؤ چی پر کومی ځمکی به استعمال شول ، هلته به بیا تر کلونو څه نه راشنه کیدل ، اویو ډول گاز داهم و چی دهغولوگیو به غوښی له منځه تللی . گازونه به یی دهلیکوپتریا جیټ الوتکو څخه استعمالول ځنی د په بڼه و اوځنی دعادی بمونو اوگولیو په بڼه چی هغه به دراکټ لانچرونو اوخاصو توپونو څخه هم ویشتل کیده ، پر ټولو یواځی دانگلیسی (a)لیکلی شوی ؤ اود ی پرته څه پری نه ؤلیکل شوی .

چرکوفسکی ته په روسیی کی ددی گازونو داستعمال اودهغوی څخه دبچ کیدو لاره هم ښودل شوی وه ، دهغوی څخه دبچ کیدو ښه طریقه دماسک استعمالول دی ، چی انسان یی واغوندی له تاثیرو یی بچ کیږی ددی سربیره پر ځمکی ځان پرمخه غورځول ساه نه اخیستل ، اودتیږی دیوال لاندی کیناستل هم انسان تری بچ کوی ، خوبیا هم داخطر شته چی گاز دانسان پر جلد اغیزه وکړی ځکه چی دگازونو له وجی دانسانانوغوښی له منځه ولاړه شی ...

« نوربیا »

دسعادت په لور

زه ولي مسلمان شوم؟

پروفیسور غازی احمد « پخوانی کرشن لال » پاکستانی :

کله چی دغه خبرزماکورته ورسید نویو توپان رااوچت شو ټولو ژړاانگو لاپیل کړی وه ، زما پلار هغه وخت په کشمیرکی دنده درلوده ، هغه ته هم زموږخپلوانو په تلیفون خبر ورکړ ، ترڅو چی زما پلار اونورو خپلوانو په مولانا عبدالروف صاحب اودښوونځی په سرښوونکی دعوه وکړه چی هغوی ددوی نابالغ زوی بیلاری کړی اوپه چل یی مسلمان کړی دی .

کله چی په محکمه کی دعوه پیل شوه ، یوی خواته زما محترم پلار اویو زیات شمیر خپلوان وو ، بل لوری ته زه اوپه زرگونو نور مسلمانان ! په محکمه کی یی زما رایه وپوښتله ، ماوویل چی په خپله خوښه او رضا مسلمان شوی یم ، زما په مسلمانیدو کی دهیڅ یوانسان لاس نشته ، زه له مسلمانانو سره اوسیږم ، اوزما له پلار اوخپلوانو نه ماته خطردی ، محکمی زماپه حق فیصله وکړه ، مسلمانانو دخوښی اوخوشحالی فریادونه اوچت کړل ،اوزه هم خوښ خندان له نوی سره بیرته ولاړم .

زما پلار کله کرار کیناستلی شو ، دمختلفو محکمو دروازی یی وټکولی خوکامیاب نه شو ،خو دجهلم یوی محکمی ته ولاړ هغوی زه وغوښتلم ، ماحس کړه چی محکمه زما په باب ښه نظرنه لری همداسی وشول هم زه یی تر دوهم ځلی حاضریدو پوری موراوپلار ته وسپارلم ، ماله هغوی سره له تگ نه انکار وکړ ، خو په زور یی په موټر کی ورسره کښینولم ، اودریاب په غاړه یوه مندرته یی بوتلم ، هغوی اخطار راکړ چی که لاری ته راونه گرځم نو په دریاب کی په ځانونه ډوب کړی نورو هندوانو هم رنگارنگ باغونه راته شنه کړل ، دغه وخت زما پلار له یوه وکیل نه زما دماشومتوب سند ترلاسه کړ چی دهغی له مخی دمحکمی قاضی زما دپلار په حق کی پریکړه وکړه اوزه یی پلار ته وسپارلم ، دحیرانی ځای خودادی چی دغه قاضی مسلمان و اوزما پلار رشوت ورکړی و .

له دغی پریکړی وروسته زه خپل پلار له ځانه سره کشمیر ته یو وړم ، په لاره کی په جمو او بتوت کی له لږ ځنډ وروسته په څلورمه ورځ موږ بهدرواه ته ورسیدو ، دوی ورځی وروسته زه خپل پلار له یوه پنډت(دهندوانو مذهبی پیشوا)سره یو ځای له کلی نه بهر یوی غرنی سیمی ته بوتلم هلته یی په ژړا ژړا زه سمی لاری ته وربللم ، هغی وړیل ما په دغه دعوه کی لس زره روپی تاوان کړی دی زما عزت خاوری شو ، په خپله کورنی کی چاته مخ نشم ورښکارولی ...

زما زړه دده په فریادونو نرم شو خوالهی رحم می تکیه شو دپیغمبر (ص) دزیارت ټولی ننداری می سترگو ته ودریدی ، نو په ادب می پلار ته ځواب ورکړ :

زه ستا په ټولو پریشانیو پوهیږم ، خو زه دخپل زړه په پریکړه منلو مجبوریم ، زه اوس داسلام دپرښودلو هیڅ تصور نه شم کولی ، نو که په خوښه ما ته په اسلام کی داوسیدو اجازه راکړی زه به ترعمره ستا غلام وم .

دایی واوریدل پلار می په غضب شو ، یو کوتك یی رااخیست اوزه یی په ډیره بی رحمی تر گوزارونو لاندی ونیولم ، دهغه گوزارونه دومره توند او زوروړ وو چی دبدن له هری برخی نه می وینی وبهیدی ، اوزه په ترپکو سرشوم ، خودپلار می زړه ونه سوځیده ، په خپل ټول توان یی زه وهلم ، ترڅو پوری چی ستړی شونو یی پنډت ته وویل :

ولی داگنده په سیند کی وانه چوم چی له ټنډی نه می داذلت داغ پری مینځم .

دغونډی په لمنه کی څپاند دریاب زما تر سترگو لاندی ؤ ، دمرگ له ویری ولړزیدم ، خو دالله تعالی لکونو شکرونه دی چی زما پښی ونه ښوئیدی ، زما په زړه کی داخیال راپورته شو چی که پلار می سیند ته واچولم ، نو زه به دخپل محبوب پیشوا (ص) په دربار کی حاضر شم ،او ورته وبه وایم چی :

زما پیشوا! تاچی ماته داسلام کوم دولت رابخښلی وُ هغه می دادی ښه سلامت ساتلی اوستا حضور ته راغلی یم .

پنډت دمرگ په تصور ولړزیده ، زما محترم پلار ته یی وویل ماشوم دی چی ځوان شی لاری ته به راشی ، ته کوم خطر ناك قدم مه پورته کوه .

پلار می دهغه خبره ومنله او چوپه خوله یی کورته ورسره راروان کړم .

دکوتکو له وهلو نه زما بدن ټوکر ټوکر و ، پزه ، سترگی اومخ

په ۷ مخ کې

افغانه تاته وایم! دښمن دي نسکور دي ، جنگ دي گټلي...

دمجاهدینو تعداد زرتنه وو ، بیاده هغه وخت چی موږ دسنکیو نه راکوزیدو زموږ سره ۲۲۰۰ مجاهدین ؤله موږ او ددوی دټولو قومانده زماپه غاړه وه وروسته چی څومره جنگ تیزیده له هغو سره مجاهدین زیاتیده ځینی خلك داوایی چی شهیدان وشی بیانو دمجاهدینو روحیه لویږی مگر زموږ مجاهدین زیاتیده او بیا پدغه وخت کی چی موږ ورته فکر وکړ تقریباً تر ۳۵۰۰ تنو پوری زموږ مجاهدین رسیده نو فعلاً زه درته ویلی شم چی له ماسره ډیر زیات شمیر مجاهدین دی مکمل او روغ قومونه دی اوس هم ترهغه وخته پوری جنگیږو چی زموږ په ځان کی ساه وی .

پوښتنه : مهربانی وکړی اودخپلو مهمو عملیاتو یاددښمن له قواوسره موچی مقابله کړی دهغی نومونه واخلی اوکه یی تاریخ ووایاست ښه به وی ؟

ځواب : داکالونه داسی دی چی موږ دځان سره یاداشت کړی نه دی دهغی وخت اوله حمله چی موږه کړی ده هغه دخوست په غربی خواکی «زنی خیلو » کی داسی حملی شوی دی چی هغه اولین وخت ؤ مجاهدینو ته په زړه کی ډیر داسی تشویش ؤ چی دښمن خوډیرقوت لری هغه وخت نوی امتحان ؤ په هغه کی دخدای پاك مهربانی وه ددښمن حملی موډیری ناکامی کړی چی پرموږیی کولی موږ به پټه په شپه کی حمله کوله بیابه نوبیرته تلودجهاد اول وخت ؤ ټولی چریکی حملی وی . بیا دهغی نه وروسته موږ مجبور شووچی پاکستان ته هجرت وکړو ځکه ددښمن او مجاهدینو په منځ کی دپیرانو اوسیدانوچی موږ کلی واقع دی هغه وخت کی راشن نه ؤ او داطمع مونه وه چی پخپل عمرکی به خوراك ووینو، موږ قصد کړی وو چی دونی پانی او واښه به خورو خو بیاهم ددغه کافر سره خپل جهاد ته ادامه ورکووموږبه له پاکستان نه جهاد ته تلو بیاپه «شهرنو» کی دیوی غټی قوی سره مخامخ شووچی په هغی شپږ تعرضه وشول چی دری تعرضه موږ وکړه او دری هغوی وکړ ه خو داډیره اوږده سلسله ده او ستر نقل دی دمجاهدینو ډیر تاریخونه دی چی لوی لوی کتابونه تری جوړیږی .

پوښتنه : دخپلو جهادی خاطرو څخه یوه په زړه پوری خاطره لوستونکوته ووایاست؟

ځواب : د«شهرنو » په قوه کی چی موږپری تعرض کاوه له موږ سره دپیرانو دطالبانو شپږد یوش تنه ؤاو څلور مولویان هم را سره ؤاو مجاهدینو وویلی چی داخو هلاکت دی او که ورشو نو خپله تباه کیږو نو مازمان مولوی صاحب ته چی اوس هم په مدرسه کی شته وویل چی مجاهدینو ته تقریر وکړه چی دمجاهدینو روحیه ډیرضعیفه شوی.ده وویل چی موږ په ایمان جنگیږو داکافران دی او زور نه لری او زموږ سره دالله تعالی (ج) زور شته کله چی هغه

> زه ولاړم دوه رکعته نفل مي وکړل دجمعي ورځ وه دعامي وکره اي خدايه ! ته زمادمور په خوله داراولي چي ولاړشه جهاد ته چي ددين خدمت ونکړي نونور به يي څوك کوي.

بیاددغوټولو زه ورته مشر کړم ویل یی چی ته دجنگ په پلان ښه پوهیږی زه په ټولو کی کم عمره هم وم خو دوی وویلی چی ته په زنی خیلو کی او نورځایونو کی جنگیدلی یی او په کارښه پوهیږی بیا کله چی موږ په جنگ باندی اخته شوویو عالم ؤ ماورته وویل چی مولوی صاحب دمجاهدینو روحیه ضعیفه شوه او ددښمن دری زره ټانگونه او موټر راغلل او سخته واهمه یی واچوله تقریر وکړ او ډیر زیات پرجوش تقریر یی وکړ لنډه داچی په داشپه کی قوه راورسیده او زموږ روحیه دومره لوړه شوه چی موږ وویلی چی دغه قوه موږ ته هیڅ شی نه ده،کله چی سهارشو دوخته چاوویلی چی ټانکونه راغلل نو ورپسی راووتلو درته په لنډه ووایم دری خواته ددښمن قواوی موتسلیم کړی او په ډیر لنډ وخت کی مو ټول سرونه

په ۷ مخ کي

تاوده مورچلونه اوناوړه هلې ځلې

سید شهریار

پدې وروستیو کې چې داسلام اوپه افغانستان کې داسلامي حکومت دښمنانو ته څرګنده شویده چې ډیر زر به دکابل ګوډاګې اولاس پوځی رژیم دمجاهدینو دګډواویو مخیزو عملیاتو په نتیجه کې له منځه ځی اوپر ځای به یې دمسلمانانو په خوښه اودشریعت محمدي (ص) په رڼا کې یو سوچه اسلامي دولت منځ ته راځي نو شرق اوغرب دهغې

دجهادي تنظیمونو مشرانو دروس دبهرنیو چارودوزیر دغه ناوړه اوله شرمه ډک وړاندیز یواځې ردکړې نه بلکه په سختوټکو یې غندلې هم دې

دمخنیوي په خاطر په یو لړ سازشونو اوتوطیو په طرحه کولو او عملي کولو پیل کړې دی .

اوس چې زموږ دشهیدانو په وینو بلې شوې ډیوې زموږ دلاروڅخه توری ورکوي اودخپلې سپینې رڼا په بدرګه مو دکامیابی تر منزله رسوي نو روس امریکا دخپلو دسیسواوتوطیو له لارې په جهادي ځواکونو کې دبې اتفاقی دراپیداکولو هڅه کوي ، اوله بلې خوا مزدور رژیم چې دځنکدن په حال کې دی دپایښت لارې چارې لټوي .

دمجاهدینو په منځ کې څه خپل منځی اختلافات اوڅه هم دکفري ځواکونو ګډې هلې ځلې اوناوړه تبلیغات ؤ چې دمزدور رژیم دپایښت موده یې تر اوسه اوږده کړه که نه نو رژیم خو لاهغه وخت له پښو لویدلی ؤ څه وخت چې یې دبادار یرغلګري لښکرې پدغه لرغوني هیواد کې دتش لاسوخودایمان اوعقیدی په وسله سمبالو افغانانو له لاسه له شرمیدلې ماتې سره مخامخ شوې داهغه شپې ورځې وې چې ملحد رژیم خپل مرګ پخپلو سترګو لیدو ، خو نړیوالو کله په افغانستان کې دیوه اسلامی دولت وجود زغملای شو؛ نوځکه روسانو هم دغه وخت غنیمت وګاڼه اودوخت نه په فایدې اخیستو سره یې دجنګ په میدان کې دستر بیلات دپټولو لپاره په سیاسی هلو ځلو لاس پورې کړچې په نتیجه کې یې دامریکا او ځنو نورو نړیوالو کفري طاتونو ملګرتیا اوملاتړ هم تر لاسه کړ.

لومړۍ دسیاسي هلو ځلو په لړ کې دمزدور رژیم دمشر نجیب له خولې څخه داسی ناوړه اوزهرجن تبلیغات پیل کړل ترڅو دمجاهدینو په صفونو کې دبې اتفاقی درځ واچوي او ځان افغانانو ته مسلمان وښایی .

خو افغانان کله دیوه داسې ګوډاګي په خوله غولیدل چې خپل ټول عمر یې دروسانو په شاګردی اوتربیت کې تیر کړی وی .

دمزدور رژیم مشر نجیب دسیاسي مانورو له لارې دروسانو تر تیب شوي پلانونه دافغانانو دښکیلاک اوزبیښاک لپاره څوڅو واره په کار واچول خو هر وارې دافغانانو له خواپه یوه متحد سوک خوله له وینو ډکه شوه دخاد مشر اودکی ، جی ، بی دغه معلوم ایجینټ چې دمظلوم ملت دقاتلانو دلومړنی ډلې څخه دی پدی بریالې نشو چې په ګاونډي هیوادو کی میشته افغانان پخپلو چالبازیو تیرباسي اوملت پدی قانع کړي چې روسان لاړل خبره صرف ستاسې اوزموږ تر منځ پاتی ده خوداسې کله کیده ، روسان خو نن هم ندي تللی ځکه نن هم دنجیب دګوښه کیدو اودیوه عبوری دولت دجوړیدو طرحی روسان رامنځ ته کوي ، لکه پدې وروستیو شپو ورځو کې چې دروسي دبهرنیو چارو وزیر (پنکن) په نیویارک کې دمجاهدینو دځینو ډلو دمشرانو سره دلیدنې کتنې نه وروسته ویلی دي ، چې روسان دي ته تیار دي چې مجاهدین اودوطن ګوند له اړخه دکابل رژیم اوسنی صدراعظم فضل حق خالقیار سره یو ګډ ائتلافي دولت جوړ کړي دخپل شیطانی وړاندیز په ترځ کې یی دافغانستان دپخوانی بادشاه ظاهرشاه یادونه هم دموقتی دولت دجوړیدو لپاره کړیده.لدی نه بل په ډاګه ثبوت کوم یو کیدای شي چې نجیب دچا په لاس اودچا دامرونو تابع دی ؟

دجهادی تنظیمونو مشرانو دروسی دبهرنیو چارو دوزیر دغه ناوړه اوله شرمه ډک وړاندیز یواځی رد کړې نه بلکه په سختوټکو یې غندلې هم دې اوورسره یې داهم ویلې دي چې هیڅ یوه بیرونی طرحه به په موږ څوک تحمیل نکړي اونه به چاته ددې اجازه ورکړای شي چې دافغانانو په سرنوشت لوبې وکړي .

که ووایو چې دغه وړاندیز دمیاشتی څخه راپدیخوا دملګرو ملتو دسرمنشي دپنځه فقره ایزې طرحې اودروس امریکا په دواړو خواوو دوسلو دبندولو دګډې موافقی اودنورو اسلام دښمنه طاقتونو دسیاسي هلو ځلو یوه کړی ده ، بده به نه وي ځکه موږولیدل څه وخت چې دمجاهدینو دګډواویو مخیزو عملیاتو په نتیجه کې دسترو فتحواوبریو لړی پیل شي دیوې خوااوبلې خوا څخه کله په یوه جامه اوکله په بله جامه سیاسي سازشي طرحې راوړاندې شي ترڅو دمجاهدینو پام دجهادی

روسانوهمدغه وخت غنیمت وګاڼه اودوخت نه په فایدې اخیستو سره یې دجنګ په میدان کې دستر بیلات دپټولو لپاره په سیاسي هلوځلولاس پورې کړ.

سنګرونو دتودولو اوپیاوړتیا څخه خپلې خواته جلب کړی ، خو په مقابل کی یې دحقې لارې مجاهدینو یو دریځ خوثابت دریځ نیولی اوهغه داچې داسلام ددښمنانو دسیاسي سازشونو اوتوطیو په لومو کې به نه نښلي ، ځکه موږ ښه پوهیږو چې دروس اودکابل دغه ناوړه هلې ځلې صرف اوصرف په راتلونکی کی په افغانستان کی دخپلوګټو دخوندي ساتلو لپاره دي .

دجهادي سنګرونو مجاهدین اوترڅو پورې چې یو افغان هم ژوندی وي دخپلو اخري سلګیو پورې به دملت اودشپاړس لکه شهیدانو دسپیڅلو ارمانونو سره سم خپل جهاد ته دوام ورکوي اوهیڅ یوه داسې طرحه او وړاندیز به ونه مني چې ددغه مظلوم ملت قاتلان پکې برخه ولري ، ځکه لومړۍ هم دجهاد دتکبیر چیغې دهمدغو ملحدینو اودروس مزدورانو په مقابل کې پیل شوې وې څوک چې نن یو واري بیا ځان دملت دوینی څښلو لپاره کله په یوه څیره اوکله په بله څیره راښکاره کوي ، خو انشاالله تعالیٰ هغه ورځ رانږدې ده چې دملت دغه قاتلان به یو یو په وارواره سره دخپلوعملونو په جزا ورسیږي اوپه ازاد افغانستان کې به یې داسلامي بیرغ لاندی نه دناستې ځای وي اونه دولاړې.

انشاالله.

خالقیار باطرفه، بې طرفه اوکه...؟

تر مړونده سره کړی دی ، دطرف په توګه بلل کیږی ! دکوم عقل خاوند دامنلای شی چې خالقیار یادهغه په شان ځینی نور شخصیتونو به دبی طرفی !! سره سره دکابل په مزدور نظام کی دصدراعظمی یا وزارت تر عهدی پوری ورسیدلای شی ؟ ددغه ډول وړاندیزونو په مقابل کی لکه څرنګه چې لازمه وه په پیښور کی زموږ مؤثروجهادی ځواکونو له خوا قوی عکس العمل وښودل شو، اوداڅرګنده شوه چې مجاهدین نه خودکابل داوسنی په اصطلاح بی طرفه صدراعظم خالقیار سره دګډ حکومت جوړولو ته چمتو دی ، اونه دظاهرشاه اودهغه ددلی ټپلی له خوا جوړشوی حکومت دافغانستان دمسلی په هواری کی څه مرسته کولای شی .

ولی متاسفانه دځو تنظیمونو مشران پرته لدی چې دهیواد په داخل کی دوینی اوقربانی په تودو مورچلونو کی پرتو مجاهدینو یا په پیښور کی داکثریتو جهادی تنظیمونو تائید اوملاتړ ورسره وی په خودخواهانه اومغرضانه توګه ددغه ډول وړاندیزونو سره موافقه ښیی اوهغه دروس په سیاست کی دبدلون په توګه تعبیروی!

اوپه خپل دی نظر دومره ټینګارهم کوی ، چې خالقیار دیوه بی طرفه اوغیر کموست شخصیت په توګه تائید وی (دپاکستان دنوای وقت ورځپاڼه)

څومره دشرم وړده پداسی حال کی چې دروسانو له خوا دټپل شوی مزدور رژیم وسله والی ډلی اونظامی وسایل زموږ دبی ګناه اومظلومو هیوادوالو په وینی تویونه بوخت دی ، دلته په پیښور کی دیوه تنظیم دمشرله خوا خالقیار دهمدی منحط رژیم صدراعظم ، دیوه بی طرفه اوغیر کمونست لوری په توګه تائیدیږی دهغه سره خبرو اترو ته تیاری ښودل کیږی !

واضح خبره ده چې دابي طرفه اشخاص به همدا خالقیار اودده په شان ځیني نور کسان وي ځکه لدي پرته به دکابل بي طرفه هیات په کوم صلاحیت اواستعداد له مجاهدینو سره خبري کوي

که څه هم ددی ډول خبرو اترو په هکله ویل شوی چې په هغی کی به ګډون کوونکی دکابل هیأت دمجاهدینو له هیات سره تر مشوری وروسته دهغه ځای دغیر کمونستو اوبی طرفه اشخاصو له ډلی نه جوړیږی ، ولی واضح خبره ده چې دا بی طرفه اشخاص به همدا خالقیار اودده په شان ځینی نور کسان وی .

ځکه لدی پرته به دکابل «بی طرفه» !! هیات په کوم صلاحیت اواستعداد دمجاهدینو سره خبری کوی ؟ اوددی ډول خبرو څخه به مطلب څه وی ؟داچې دمجاهدینو په نمایندګی ګډون کوونکی هیات (چې دیوه یاڅو محدودوتنظیمونو څخه جوړشوی) خالقیار دیوه بی طرفه لوری په توګه پیژنی ، اوهمدارنګه ددی ډول خبرواترو پیشنهاد خالقیار له خوا وړاندی شوی ، په خپله داښیئی چې دابی طرفان څه ډول اشخاص دی !

ددی استعماری طرحواو وړاندیزونو په هکله دځو محدود مشرانو له خوا ناسالم اوغیر اصولی دریځ به نه یوازی ددی مشرانو سیاسی ضعف وګڼلای شی ، بلکه دجهاد اوانقلاب پدی سرنوشت ټاکونکی مرحله کی به دغه ډول موفقونه اودریځونه دجهاد له ستری مقدسی داعیی اودڅه دپاسه یونیم ملیون شهیدانو له وینو سره به دخیانت په توګه هم تلقی شی .

پداسی حالاتو کی چې زموږ سرتیرومجاهدینو دافغانستان په هرګوټ کی اوپه تیره بیا دهیواد په جنوبی اوختیځو برخو کی ددی فاسد نظام دجرړو دایستو لپاره یو ځل بیا قهرمانانه حملی پیل کړی ، دهری ګړی اوهری شیبی په تیریدو سره دمزدور رژیم دراپرزیدو لحظی رالنډیږی ، که زموږ یو یا څو تنه دتنظیمونو مشران دپردیو سره دمعاملی اوسازش له لاری دقدرت ته رسیدو خوبونه وینی ، دملت له قاتلینو سره دخبرواترو پر میز کینی ، دابه زموږ دجهادی تاریخ پر پاکه لمن دننګ هغه تور داغ وی ، چې اوسنی څه حتی راتلونکی نسلونه به هم پری شرمیږی.

دغه محترم مشران دی ، په پام کی ولری چې کله دروسانو کړی په غوږ غلامان اودکابل دتخت او بخت اوسنی واکداران دپردیو دغلامی ، هیواد اوولس ته دخیانت اودبی ګناه ملت دقتل عام په جرم دملت په محکمه کی محاکمه کیږی ، زموږ غیرتی اومیړنی ولس به دوی هم له یاده ونه باسی وما علینا الی البلاغ

سناتور مولانا سمیع الحق :

دمجاهدینو له رضایت پرته ، دافغانستان دمسٔلی حل ممکن ندی

پیښور ، دمیزان ۲۰مه :

دپاکستان دجمعیت العلمای اسلام مشراونامتو عالم مولانا سمیع الحق په یوه وینا کی ویلی دی چی اوس اوس نړیوال قوتونه دافغانستان دمسلی دزر تر زره حل کولو په بهانه دمجاهدینو پر ضد په سازشونو لگیا دی .

مولانا سیمع الحق دپاکستان حکومت ته مشوره ورکړه چی افغانستان جهاد دموثرو قوتونو اومشرانو لکه مولوی محمد یونس خالص الحاج مولانا جلال الدین حقانی ، استاد سیاف ، انجینر حکمتیار اواستاد ربانی درضایت نه پرته پر مجاهدینو دافغانستان دمسلی دحل په نامه دکوم شی تپل به دافغانستان مسله نه یوازی حل نشی کړای، بلکه هغه به لانوره هم کړکیچنه کړی .

مولانا سمیع الحق دگردیز په جگړه کی دحقانیه دارالعلوم دطالبانو اوعلماوو دشهادت اوپر مجاهدیو باندی دنیپام بمونو دحملی په هکله خپل غم اوخفگان ښکاره کړ.

اوله نړیوالو څخه یی وغوښتل چی ددی وحشت اوبربریت پر ضد خپل اواز اوچت کړی .

تظاهرات شدیدی هزاران تن ازاهالی کشمیر درمقابل دفتر مرکزی سازمان ملل متحد

نیویارك ، ۲۰ میزان :

هزاران تن از اهالی کشمیرمقیم امریکا تظاهرات شدیدی درمقابل دفتر مرکزی سازمان ملل متحد واقع نیویارك برپانمودند که طی ان تجاوز عساکر هندی برحریم کشمیرراتقبیح نموده وازسازمان ملل متحد خواستار عملی نمودن قطع نامه های ان سازمان درمورد مسله کشمیر گردیدند.

مظاهره کنندگان شعارهای «عساکر هندی ! از کشمیر خارج شوید»

« قتل وخونریزی درکشمیر راخاتمه دهید » و«قطع نامه های سازمان ملل متحد راعملی سازی » رابا خود حمل می نمودند .

تظاهرات مذکور ازجانب فدراسیون کشمیر درامریکا براه افتیده بود که مسولین ان سازمان از مسولین ملل متحد خواستند ، تا از ادامه خونریزی درکشمیر جلو گیری نموده ، وبه مردم کشمیر جهت فیصله سرنوشت شان حق رای دهی داده شود .

دکابل ددولتي امنيت وزير ...

دکابل دمزدور رژیم ددولتي امنیت (واد) وزیر ډاکټر فاروق یعقوبي په کابل کي دیوي بهرني جریدي سره په مرکه کي داصلاحاتو په نامه دخاد په ځینو پخوانیو جنایاتو باندي اعتراف کړي.

دلاهور څخه خپریدونکي دپاکستان ورځپاني داکتوبر د۱٤مي نیټي په گڼه کي دنوموړي دمرکي ځیني برخي رااخیستي چي دهغي له مخي ډاکټر یعقوبي اعتراف کړي ، چي دتیر کال څخه راپدیخواپه مختلفو ولایاتو کي دخاد ۱۷ شکنجه ځایونه تړل شوي دي ، اودخاد پرسونل ترډیره حده کم کړاي شوي دي.

ډاکټر یعقوبي وویل چي له واد سره اوس یوازي ٤٤۰ سیاسي بندیان شته.

مبصرین وایي دواد دجنایاتواوشکنجه ځایونو په هکله دکابل رژیم دغه اعتراف دلومړي ځل لپاره دمطبوعاتو پرمخ راښکاره شوي پر ٤٤۰ سیاسي زندانیانو اعتراف هم ددوي له خواپرخپل جنایت اووحشت باندي اعتراف دي .

پداسي حال کي چي ټول نړیوال او دبشري حقوقو سازمانونه پوهیږي چي همدااوس هم له کابل سره په زرهاوو سیاسي زندانیان موجود دي چي دواد دوحشتناکي اداري له خوا شکنجه اوتعذیب کیږي.

عکس العمل رهبران جهادي درقبال طرح مذاکرات ۳ جانبه

پشاور ، میدیا :

رهبران ٤ تنظیم موثر جهادي مقیم پشاور طرح پیشنهادي خالقیار صدراعظم رژیم کابل را مبني بر تدویر مذاکرات بین نمایندگان تنظیم هاي مجاهدین ، نمایندگان رژیم کابل (بدون شرکت نجیب) ونمایندگان ظاهرشاه درمورد تشکیل یك حکومت موقت ، بشدت رد نموده اند.

به اساس راپور میدیا استادعبدالرب رسول سیاف ، رهبر اتحاد اسلامي ، مولوي صاحب محمد یونس خالص رهبر حزب اسلامي ، استاد برهان الدین رباني رهبر جمعیت اسلامي ، وانجینر قطب الدین هلال نماینده حزب اسلامي حکمتیار طي مصاحبه هاي جداگانه بامیدیا طرح مذکور را رد نموده ،واظهارنمودند که این نوع مذاکرات چه درموجودیت نجیب وچه درصورت عد م موجودیت وي غیر عملي وناممکن مي باشند .

همچنان یك نطاق شوراي سرتاسري قوماندانان طي تماسي با میدیا این نوع مذاکرات راناممکن دانست انرا توطئه بخاطر ایجاد تفرقه درصفوف مجاهدین تلقي کرد.

به همین گونه اقاي جبریلي سخن گوي شوراي ائتلاف اسلامي (احزاب ٤ گانه اهل تشیع) مقیم پشاور پیشنهاد مذکوروارد نموده ، همه نمایندگان ورهبران مذکور هرنوع نشست بانمایندگان رژیم کابل را ناممکن خواندند وانرا خلاف اصول واساسات جهاد اسلامي خواندند.

روس اوامریکا دمسلمانانو پر خلاف دیوی جگړی لپاره چمتوالی نیولی دی

قاضی حسین احمد

دپاکستان دجماعت اسلامی مشر قاضی حسین احمد په کویټه کی یوی جوړی شوی غونډی ته دوینا په وخت کی وویل اوس چی روس اوامریکادواړو دمسلمانانو پرخلاف دیوی لویی جگړی لپاره ځانونه چمتو کړی دی ، مسلمانانو ته پکار دی چی سره متحدشی اودواړو ښکیلاکی اوطاغوتی ځواکونو ته خوله ماتوونکی گوزارونه ورکړی.

قاضی حسین احمد دخپلو خبرو په ترڅ کی وویل : کفری ځواکونه په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دروسی ښکیلاکی ځواك شرمیدلی ماته نه منی اوځینی ایجنټان یې لا داسی تبلیغات هم کوی چی په دغه ماتی کی دامریکا لاس ؤ.

قاضی صاحب زیاته کړه : روس اوامریکا دواړه په دی هڅه کی دی چی دافغانانو دجهاد مسیر بدل اوپه هره وسیله چی کیږی په افغانستان کی داسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی.

قاضی صاحب وویل چی افغان مجاهدین به هیڅ کله هغه حکومت ونه منی چی پردۍ باندی له بهرڅخه تحمیل شی .

زه ولي مسلمان شوم ؟

می پرسیدلی وو ، نږدی یوه هفته په بستره کی پروت وم پلار می زخمونه تړل ، کله چی لږ روغ شوم زه یی دبهدرواه په ښوونځی کی شامل کړم ، دهندو هلکانو تر نظر لاندی به ښوونځی ته تلم راتلم ، مسلمان زده کوونکی له ماسره دخبرو کولو نه منعه شوی وو، هندو زده کوونکو اوښوونکو ماته په کرکه اونفرت کتل ، اودغسی دغه ښوونځی ماته له دوزخ نه کم حوږوونکی نه ؤ.

لږموده وروسته می ددوست محمد په نوم یوه تن مسلمان زده کوونکی سره اړیکی ټینگی شو ، دهغه په لاس می مولاناعبدالروف ته یو لیك واستاوه ، کله چی مولانا ته زما لیك رارسیدلی و نو دکلی خلك یی راټول کړی وو اوپوښتنه یی کړی وه چی :

څوك شته چی دمرگ خطر ومنی اویو مسلمان دکافرانو له منگولو نه راوباسی ؟

دهغه په ځواب کی دکلی یو غیرتی اوغریب ځوان چی جان محمد نومیده ، ویلی وو چی دی تیاردی .

دمخکنی پروگرام له مخی جان محمد صاحب یوه ورځ بهدراوه ته راغی ، هغه زه خبر کړم نو ما په ښوونځی کی له تفریح نه وروسته په ژړا ځان سرښوونکی ته ورساوه ،او دگیډی ددرد پلمه می ورته وکړه ، ښوونکی صاحب ماته دکور ته تگ اجازه راکړه ، ما کتابونه رااخیستل ، اوغلی له ښوونځی نه راووتلم ، جان محمد صاحب یو مقامی مسلمان دلاری بلدی ورسره ملگری کړی واو په همدغه شپه دکشمیر له سرحده دچنبه ریاست ته راواوښتلو هغه مسلمان دلاری بلدی بیرته ولاړاو موږ دری ورځی نږدی ٦۰ میله لاره مزل وکړ او دلهوزی ته راورسیدو زما پښی تناکی شوی اوجامی می په ځان کی ګلکی شوی وی .

ماښام دپټان کوټ په لاره امرتسر ته راورسیدو اوبیا بیرته خپل پلرنی ځای بوچهال کلاں ته راورسیدو ، زمور استقبال ته ډیر زیات کسان راووتل ، اوډیر خوښ شول .

داسلام له قبلولو نه وروسته ماپه ځان کی ډیر ستر ذهن اومعنوی بدلون حس کړی دی ، زه پخوا دمیانه ذهانت خاوند وم خو داسلام درحمت سیوری ته چی راغلم لوی خدای (ج) ددنیا او اخرت دنعمتونو دروازی راته خلاصی کړی ما دپیغمبر ص دنوعا اغیزه په خپله داسی حس کړی ده چی تراوسه پوری زه په هیڅ اقدام کی ناکام شوی نه یم ، درسول الله (ص) دوعا زما دژوند قیمتی پانگه ده اوانشاالله دقیامت په ورځ به هم دغه دوعا زما دخلاصون اونجات سبب شی.

افغانه تاته وایم: ...

بیرته ونیول او دالاندی ټانکونه چی ؤ هغه موږویشته او څه موتسلیم کړل تقریباً (۱۲۰) نفره موژوندی ونیول داد الله تعالی (ج) شان وو زمونږ نه یوولس نفره شهیدان شول او زما ورور نور جمال هم پکی شهید شو بیالنډه واقعه بله درته بیانه وم چی راغلم کورته او زما مور دخپل زوی په شهادت هیڅ ونه ژړل ویلی یی چی داد خدای پاك شان وو دخدای (ج) په لار ولاړ و او نور هیڅ یی ونه ویل بیا په ډیر لهنوخت کی بله قوه راغله بیاچی دمجاهدینو کوم قوماندان وو هغی ماته احوال راولیږلو چی ته نه وی ډیره مشکله ده نو مازړه کی فکر وکړو که زه اوس ولاړشم زما مور به ښیرا راته وکړی مور ته می وویل چی زه به یوځل ددی مجاهدینو سره ولاړ شم او بیابه بیرته راشم نو هغی سخت افسوس وکړ اووی ویل چی دافسوس خبره ده چی په داسی بد حالت کی ځی چی تاته خلك تر اوسه فاتحی ته راځی بیا زه ولاړم دوه رکعته نفل می وکړل دجمعی ورځ وه او دعامی وکړه چی ای خدایه پاکه ته زما دمور په خوله واوړ اولی چی «ته ولاړشه،ته چی ددین خدمت ونه کړی نو بیا به یی څوك وکړی » کله چی زه دنفلو دخلاصولو سره راوگرځیدم مورمی همداسی را ته وویل . لکه څنگه چی ماخدای (ج) ته دعا کړی وه را ته ویی ویل چی «زویه ته چی ددین خدمت ونه کړی بیا به څوك وکړی ولاړشه ورسره» هماغه ووچی زه ورسره ولاړم .

پوښتنه:دافغانستان دمسلی دسیاسی حل په رابطه ستاسو نظر څه دی ،اودراتلونکی په باب څه فکر کوی؟

ځواب : زه خو فکر کوم چی داسی چی ټولی دنیا خلك اخته دی دافغانستان موضوع داسی نده ددنیا هر کنج ته ددی تاثیرات رسیدلی نوله دی وجی زه گومان نه کوم چی مجاهدین به په ذهن کی داراولی چی دلته به سیاسی حل راشی

افغانه زه تاته وایم ، نور چی هرڅه وایی اوهرڅه کوی ، کوی به یی ، خو زه تاته وایم چی جنگ دی گټلی اوس دسیاسی حل خبری ولی کوی زه خوافسوس کوم چی داګټلی جنگ ولی بایلوی.

زه خوداسی وایم شخصی کوم پلان چی له ماسره دی ترهغی پوری به یی پری نږدم حتی چی داټول رهبران هم روغه جوړه ورسره ومنی خو زه یی نه منم په غرونو کی به ورته ننوتلی وم ترهغی پوری به ورسره جنگیږم ، ترڅوچی کفراوفساد ورك شوی نه وی ، قرآن په ملك کی حاکمه نه وی اواسلامی قانون جاری نه وی ورروستی فیصله زموږ داده.

دبگرام په هوایی ډگر دمجاهدینو پر له پسی بریدونه دوام لری

پروان ، میډیا :

دپروان ولایت یوه جهادی خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړی چی دکوه صافی مجاهدینودمیزان په ۱۳ مه ددرنووسلو په ډزوسره دبگرام په هوایی ډگر کی دوه جیټ الوتکی له منځه وړی اودالوتکو دپروازلیکه یی ژوبله کړی ده اوپدی توگه دبگرام هوایی ډگر دالوتنوپر مخ بند شوی .

همدارنگه دمیزان په ۱٤ مه دمجاهدینوددرنووسلو دډزو له امله یی دهوایی ډگره دخاد ریاست ودانی ویجاړه اودالوتکو دروغنیاتو مرکز اوراخیستی چی ٤ ساعته پکی اوربلیده .

همدارنگه دمیزان په ۱۵ مه نیټه یوه الوتکه دپرواز په وخت ولگیده ، چی په هوایی میدان کی راوغورځیده ، خبرونه وایی چی پدی الوتکه کی دهغی ټوله عمله له منځه تللی اوداور لمبی یی تریوه ساعته بلی وی .

په همدی بڼه دمیزان په ۱٦مه نیټه مجاهدینو دکوه صافی څخه پر هوایی ډگر ددرنو وسلو ډزی وکړی چی یوه بله جیټ الوتکه له منځه لاړه او دوه پیلوټان اوڅو عسکر ووژل شول ، اویو شمیر نور ټپیان شول .

په همدی ورځ دتیلو یوی ذخیری هم اور واخیست چی دوه ساعته سوځیده .

دیادونی وړده چی دبگرام په هوایی ډگرددرنووسلو عملیات پر گردیز اونورو سیموباندی درژیم دوحشیانه بمباری دمخ نیوی لپاره دمیزان په لسمه نیټه پیل شوی چی تر وروستی رپوټ دمیزان تر ۱٦ مه پوری درژیم ٦ الوتکی له منځه تللی دی ، اوهوایی ډگر دالوتنو پرمخ بنددی ، دغه لړی لاروانه ده .

دافغانستان قضيي دحل . . .

دحدرکیدلو په مفهوم دی اوبس.
دکفر،الحاد اوفساد پرضد د مؤمنو افغانانو دجهاد له پیل څخه تراوسه پوری دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په عنوانولو په نړیوال سیاسی ډگر کی ډیری زیاتی پریکړی اوفیصلی صادری شوی،یوځای اوبل ځای په ځانگړی توگه دهمدی موضوع په اړوند غونډی اوکنفرانسونه شوی ، دهیوادونو دمشرانو په سطحه دیپلوماتیکی سفرونه اوتماسونه نیول شوی. خوکه دملگرو ملتونو دځانگړی استازی ترسرپرستی،لاندی دجینوا خبری اتری سرته رسیدلی، داشوم هدف پکی نغښتی و چی دتش لاسومؤمنو مجاهدینو په وړاندی دروسی یرغلگرو قواو شرمیدلی ماته دنړیوالو له نظره پټه اوله افغانستان څخه دهغوی دتیښتی اووتلو لاره برابره اوپه اصطلاح یوه «داوړو پوزه» ورته جوړه کړی،اوکه بیا وروسته دملگرو ملتونو دسرمنشی پنځه فقره یزه طرحه وه اوکه دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په عنوالولو دجگړی په دواړو خواودوسلی بندښت په اړه دروس اوامریکا دبهرنیو چارو دوزیرانو گډه اعلامیه اوکه ....
زموږ مجاهد ملت ته په دی برخه کی دهرچاشوم اهداف اوغوښتنی په ډاگه دی ، اوپه دی پوهیږی چی کفری اوطاغوتی ځواکونه په دغه یاهغه بڼه دامذبوحانه هلی ځلی دڅه لپاره کوی ؟ کفری ځواکونه غواړی په هروسیله چی کیدای شی زموږ ملت اووگړی غافل اوپه افغانستان کی دیواسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی،خو زموږ مجاهد ملت چی دلوی خدای (ج) دمرستی په تکیه یی دیوه طاغوتی اوالحادی ځواك مقابله پیل کړی ، په تش لاس خودایمان اوعقیدی په کار نده وسله یی ددین او وطن دښمنان له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړی اودیوی ناڅوله جگړی له پوځی ډگر څخه سرلوړی راوتلی اودبشپړی په درشل کی دی دسیاسی حل هرډول طرحی اوپیشنهادونه چی زموږ دجهاد اهدافو اوآرمانونو ته زیان رسوی ، دخپل اسلامی انقلاب په ضد یی داسلام اومسلمانانو ددښمنانو گډ سازشونه اوتوطیی گڼی اودلوی خدای (ج) په مرسته به په خپل ټول ځواك دهغو دخنثی کولو اوبی اغیزې کولو لپاره مقابله اومجادله کوی.
زموږ مؤمنو مجاهدینو چی داعلای کلمة الله اوله خپل هیواد څخه دالحاد اوفساد دتغر دټولیدو اودیو اسلامی حکومت دقیام په خاطر دوسله وال جهاد ډگر ته دانگلی هیڅکله یی هم هلته یا دلته دسیاسی خبرواترو له لاری دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په تمه دجهاد سنگرونه نه دی ساړه کړی ، بلکه دخپلی ستری داعیی پر ضد یی ددښمن هری پریکړی اوفیصلی ته ددین اووطن ددښمنانو په وروستیو ځالودځپونکواویو مخیزو عملیاتو په چټکتیا سره درد ځواب ورکړی اونړیوالو ته یی په ډاگه کړی چی مجاهدین دخپل سرنوشت په اړه دهیڅ تحمیلی فیصلی اوپریکړی نشی منلای اوددی ځواك لری چی په پوځی ډگر کی دوسله وال جهاد له لاری دخپل سرنوشت فیصله وکړی .
لکه په دی وروستیو وختو کی چی نړیوالو کفری ښکیلاکی ځواکونو دافغانستان دمجاهد ملت پر ضد دخپلو توطیو اودسیسو دعملی کولو دشومو هلوځلو په لړ کی خپل د سیاسی مانوروماشین لاپسی متحرك اوفعال کړی اودافغانستان دقضیی دسیاسی هواری اودحل لاری دپلټنی په بهانه ډول ډول وړاندیزونه کوی ، یوه ورځ دروسانو دمزدور رژیم سره دگډ ائتلافی حکومت دجوړولو خبره کوی بله ورځ دافغانستان پخوانی پاچا ته دعبوری مرحلی لپاره دواك دورسپارلو وړاندیز کوی ،اوبله ورځ بیا بیله طرحه اووړاندیز لری ، نو زموږ دسنگر اتلو مجاهدینو دکفری ځواکونو دغو وړاندیزونو ته چی په څرگنده توگه زموږ دجهاد له آرمانونوسره په پوره تناقص اوضدیت کی واقع دی دروسانو دمزدوانو په محصورو پوځی مرکزونو باندی دهیواد په جنوب کی په گردیز او په ختیځه خواکی په ننگرهارکی دعمومی اوسرتاسری حملو په کولوسره په کلکه سره درد ځواب ورکړی.
زموږ مجاهد ملت له پیل نه داپه ډاگه کړی چی دمؤمنو افغانانو جهاد کومه سیاسی اویا قومی شخړه نه ده بلکه دادعقیدی لپاره جنگ دی اودحق اوباطل تر منځ جگړه ده ، نو تر هغه چی باطل حق ته په تمامه معنی دتسلیمی غاړه نه وی ایښی ، داجگړه به جاری وی ، همدغه جهاد به دمؤمنو افغانانو سرنوشت ټاکی اوپه همدغه سنگر کی به ددوی قضیه حل کیږی .

په نیول شوی کشمیر کې هندی پوځیانو ۲۵ تنه شهیدان کړل

اسلام اباد ، دمیزان ۲۲ :
دپاکستان ورځپاڼی په یوه خپورشوی خبر کی ویل شوی دی چی هندی پوځیانو په نیول شوی کشمیرکی دکورونو دتلاشی پروخت ۲۵ تنه کشمیری مسلمانان په ډیری بی رحمی سره شهیدان کړی دی .
خبر زیاتوی چی مسلمانانو دتیری جمعی دورځی تر لمانځه وروسته په پراخو مظاهرو لاس پوری کړی چی دهغوپه ترڅ کی یی دهندی پوځیانو زور زیاتی ،نیونو اولوټولو سخته غندنه وکړه.
دیوبل خبر له مخی په همد ی ارتباط دحضرت بل په دربار اودسری نگر په جامع جومات کی غونډی شوی وی،غونډو ته وینا کوونکو دټولی نړۍ پر مسلمانانو غږ وکړ چی دکشمیر دمظلومسلمانانو ننگه اوملاتړ وکړی .
په خبر کی ویل شوی دی چی دنیول شوی کشمیر په بیلابیلوسیمو کی دکشمیری آزادی غوښتونکو مسلمانانو اوهندی پوځونو تر منځ دنښتو لړۍ روانه ده .
په دی لړ کی دکشمیر مجاهدینو دبت پوره په سیمه کی یو پل سوځولی دی . خبر زیاتوی چی دهمدغه ځای په نښتو کی ۷ تنه هندی پوځیان وژل شوی دی .

تشکیل يك مدرسه یهودی برسقف مسجد ذوالقرنین

بیت المقدس ، ۲۰ میزان :
اسرائیلی های حاکم بر فلسطین مدرسه یهودی ایرا بر سقف مسجد اسلامی ذوالقرنین درشهر بیت المقدس تاسیس نموده اند که راپور ان توسط نماینده سازمان بین المللی یونسکو درفلسطین داده شده است.
درراپور گفته شده که مدرسه مذکور«تال مودیه» نام دارد و کارتعمیر کردن آن بر سقف مسجد ذوالقرنین بشدت جریان دارد .
يك ترجمان سازمان انتفاضه فلسطین این اقدام حکومت اسرائیل رايك عمل شرمناك خوانده آنرا جز فعالیت های اسرائیل به منظور ختم کردن مسلمانان دانست .
همچنان حکومت اردن احتجاج شدیدی خویش راتحویل مقامات سازمان ملل دراین مورد نموده است .

دگردیز په شاوخوادرژیم دسکاډ توغندیودچاودني یوه منظره

په گردیز کي دمجاهدينو پر مرکزونو درژيم دهوايي قواوو وحشيانه بمباري

پکتیا ، د تلی۱۸ :
دپکتيا ولايت دالحاج مولوي حقاني دجبهاتو څخه دجهاد هنداري خبريال خبر راکوي چي دميزان په ۱۷ مه نيټه دمزدور رژيم هوايي قواوو دگرديز دغلگي په سيمه کي دمجاهدينو پرمرکزونو يووحشيانه بريد وکړ.
خبريال ليکي،ددي بمباري له امله يو شمير مجاهدين پداسي حال کي چي ددښمن دماتي خوړليوقواوو په مقابل کی يي خپل بريالي عمليات ـــ پرمخ بيو له په بي رحمانه توگه په شهادت ورسيدل ، اويو شمير نور ټپيان شول .
ددي بمباري له امله دمجاهدينو دشهيدانو اوټپيانو دقيق شمير تراوسه ندي معلوم،مجاهدين ددښمن پرسنگرونو خپلو بريالیو بريدونو ته دوام ورکوي.

دهيت تحرير تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۲۳)
يونيورستي ټاون پيښور
تيليفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضيا «ذهين بابري»

دهیواد په تودومورچلو کې

هرات :
دهرات له ولایت څخه میدیاریوټ ورکړی چی مجاهدینو دمیزان په ۱۳ مه نیټه دزنده جان په ولسوالی کی درژیم پرقواو برید وکړ چی ددښمن دری عرادی زغروال ټانکونه سوځیدلی ، څلور عسکر اوملیشه مړه اودوسلی اومهماتویوه ډیپوسوځیدلی ده .
همدارنگه مجاهدینو تردی یوه ورځ مخکی دمزدور رژیم دتیلو یو ټانکر سوزولی ، اوددښمن یو شمیر افراد یې وژلی دی .
همدارنگه دهرات کندهار دلویی لاری په اوږدو کی درژیم پرقواوود برید په نتیجه کی یو جیپ موټر سوځیدلی اویو شمیر دخاد غړی وژل شوی.
هلمند :
دمیډیا درپوټ په اساس دهلمند ولایت مجاهدینو دمیزان په ۱٤ مه نیټه دگرشك په ولسوالی کی درژیم اوه امنیتی پوسټی فتحه کړی درژیم ٦ پوځی لاری یی سوځولی او۱٦ تنه ملیشه عسکراوصاحب منصبان یی وژلی اویو شمیر نوریی ټپیان کړی دی .
همدارنگه یو میل ۸۲ ملی متری توپ اویو میل زیگویك یی دیوی اندازی مهماتو سره ولجه کړی دی .
لوگر :
میډیا دلوگرله ولایت څخه خبر ترلاسه کړی چی ددی ولایت مجاهدینو دمزدور رژیم هغه مرستندویه قواچی غوښتل یی دگردیز دمحاصره شوی قواو مرستی ته ځان ورسوی دپل علم اوپادخاب تر منځ سیمه کی محاصره کړی اوتربریدونولاندی یې نیولی ده .
مجاهدینو په خپل برید کی ددی قواوو څخه یو جیب اویو گاز موټر دیو شمیر صاحب منصبانو او گلم جم ملیشی سره نیولی دی ، همدارنگه دغه قواو ته یې درانه تلفات وراړولی .
سمنگان :
به اساس گزارش میدیا ازولایت سمنگان مجاهدین پوسته های امنیتی سرخ چشمه واقع ولسوالی خلم آن ولایت را تحت حمله قرار دادند ، که در نتیجه ٥ تن از افراد رژیم بشمول ۲ صاحب منصب هلاك و ۱۰ تن دیگر به اسارت درآمدند،مجاهدین ۱۹ میل کلاشینکوف رابه غنیمت گرفتند .
طبق يك خبر دیگر يك گروپ مسلح ۲۰ نفری ملیشه های رژیم مزدور همراه با قوماندان خویش به مجاهدین پیوستند .
کندهار :
دکندهار له ولایت نه میډیا رپوټ ورکړی چی مجاهدینو په ... پرمرکزونو یو تعرضی برید وکړ ، چی درژیم دیو شمیر نورو عسکرو اوملیشو په گډون یې د پنځمی فرقی دلوژستیك مدیر هم وژلی اویو شمیر نور یې ټپیان کړی .
ننگرهار :
دننگرهار څخه دراغلیو عینی شاهدانو دخبر په اساس میډیا رپوټ ورکړی چی په جلال اباد ښار دمجاهدینو داحتمالی ستری حملی له ویری مزدور رژیم خپل مسلط بریدونه دننگرهار په آزادوسیموزیات کړی اوددی ځای اوسیدونکی یی مجبور کړی چی پاکستان ته هجرت وکړی دغه بریدونه دخوگیانیو،روداتو ، اوچپرهار په سیمو ترسره کیږی چی ددی سیمو څخه یی تورخم ته دموټرتله راتله هم گران کړی.
همدارنگه دجلال آباد له ښار څخه هم ډیرو مشکلاتو سره سره یو زیات شمیراوسیدونکی آزادو سیمو اودپاکستان لوری ته راغلی ، اودالړی تراوسه هم روانه ده.